# زما حوض د يوې مياشتې واټن - په اندازه اوږد او پراخ - دی، اوبه یې د شېدو څخه سپينې دي، او بوی یې له مشکو څخه غوره دی

له عبد الله بن عمرو رضی الله عنهما څخه روايت دی وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: "زما حوض د یوې مياشتې واټن - په اندازه اوږد او پراخ - دی، اوبه یې د شېدو څخه سپينې دي، او بوی یې له مشکو څخه غوره دی، جامونه يې د اسمان د ستورو په څېر دي، څوک چې له هغې څخه وڅښي هېڅکله به تږی نشي".
[صحيح] [متفق علیه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې د قيامت په ورځ به د ده لپاره يو حوض وي چې اوږدوالی به يې د يوې مياشتې واټن په اندازه وي او عرض به یې هم همدارنګه وي. او دا چې اوبه به يې په سپين والي کې له شېدو ډېرې سپينې وي، او دا چې بوی به يې پاکيزه او د مشکو له بوی څخه ډېر غوره وي، او د هغه جامونه به په زياتوالي کې لکه د آسمان د ستورو په څېر وي، چا چې په هغو کوزو له حوض څخه څښاک وکړ نو هېڅکله به تږی نه شي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65030

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee